لیکوال رفیع الله علی حیدر وردګ

# د وردګو مینه ناول



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب پیژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نـــــــوم. | د وردګو مینه(ناول) |
| لیـــکـــــــــوال. | رفیع الله علی حیدر (وردګ) |
| ډیــــــــــــزاین. | محمد کریم (فیضی) |
| د چاپ کـــــــال. | ۱۴۰۲/۲/۳ |
| د لیکوال اول شمیره. | ۰۷۹۷۳۳۵۸۳۰ |
| د لیکوال دوهم شمیره. | ۰۷۳۰۴۳۲۷۶۲ |
| بریښنالیک. | Karimullahfaizi3@gmail.com |


که چیری تاسی غواړی خپل کتابونه ته ډیزاین ورکړی

نو له موږ سره په تماس کی شی....  ۰۷۸۶۷۸۸۴۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال خبری!

**ګرانو او محترمو لوستونکو په دی هیله چی روغ او جوړ به یاست**

**دادی یوځل می بیا ستاسو قدرمندو حضور ته می یو ښکلی او بند نه ډک ناول وړاندی کوم په دی هیله چی ستاسو د خوښنی وړ وګرځی**

**ستاسو کشر ورور رفیع الله علي حیدر (وردګ)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ دی وي!

# زما ګرانی مینی ته👰

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما دخور واده وو .

ترمامې خور مشره وه.

دهغې واده وو .

زه ماشوم وم په دې نه پوهیدم چې داخه کیسه ده.

خو چې زما خور يې موټر ته پورته کړه.

ما ورپسې وژړل خور مې هم ژړل .

اخير يې زه هم موټر کې ورسره سپور ګړم.

ډیر مزل مو وکړو اخیر ورسیدو تقریباً اووه کلن به وم.

خور سره مې یوه شپه وکړه .

نو پلار مې راغي زه يې راوستم کورته .

ماورته ویل پلارجانه خور نه بوځو.

پلار مې ویل نا ګرانه دهغې همدا کور دي .

ما ويل پلار جانه مخکې خويې دا کور نه وو.

پلار مې ويل نور بس خو اوس يې همدا کور دي.

راغللو کور ته .

زه مې دمور سره دومره نه وم عادت لکه دخورسره چې عادت وم.

دماشومتوب دوره وه.

ما هم ډير پسې ژړل .

مور به مې ماته هر شي راکول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت تیریده .

بیا دمور په مینه هم پوه شوم.

تر ما مشره بله خور مې هم وه.

او بله تر ما کشره وه.

وخت تیریده زه هم لوی شوم.

زه به هر وخت دخور کره ورتللم .

شپه به مې کوله بیا به بیا راتلم .

چې راتلم به خور به مې میوه راکړه .

هغه به مې په لاره تر دې ځایه ختمه کړه.

بله ورځ بیا دخور کره لاړم ښه ساعت مې ورسره تیر شوو.

ډیری شپې مې ورسره وکړی .

ځکه دهغې خاوند په ایران کې وو.

ماورته دژمې لپاره بوټی کړلو.

دې وخت کې زما عمر 13کاله وو.

زما دخور دخاوند دوې خورانې وی .

څلور يې وروران وو هغه ټول ترې بېل وو ځان ځان ته يې کورونه وو.

مور او پلار يې هم ژوندی وو.

زما دخور دخاوند یوه خور واده وه.

او بله به يې تر ما لږ کشره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما دخور خاوند حکمت نومیده.

دحکمت وروران هم په ایران کې وو.

یوازی پوړا مور او پلار او وړه خور یې کور کې وو.

زه او هغه وړه زما دخور دخاوند خور به سهار وختې تللو غره ته .

مابه بوټی وهلو هغې به ټولولو .

دهغې جنۍ نوم شازیه وو.

تر غرمې به مو بوټی وهلو بیا به مو دغره څخه راکوز ولو.

دغره څخه بیا به مو راوړلو کورته .

زه او شازیه به ناوخته راتلو کور کې به دوی ډوډی خوړلی وه.

ما او شازیې به تنها خوړله.

زما خور به راته ناسته وه .

ډوډی به مو چې وخوړه ما به لمونځ وکړو.

خو شازیه تر اوسه پر لمانځه نه وه ولاړه.

ما په لمونځ وکړو زما یو موبایل وو په 1000افغانی مې پلار راته اخیستي وو.

په هغه کې به مو په بادامو چکه ډیر خلک ورته لډو وایې هغه کوله.

دشازیې دغو دبادامو باغ وو .

مابه له شازیې بازی ګټله .

ډیر واری مې تری وګټله .

خو اخیر مې وسره په نیم نیم کیلو بادامو بازی شروع کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما سره ټول نیم کیلو بادام وو .

خو  دا وار رانه شازیې بازی وګټله.

زه یې له بادامو خلاص کړم .

ماورته ویل.

راځه بیا بازی وکړو.

خو شازیې بازی نکوله .

او زه یې له بادامو خلاص کړم.

اوس خو به نو خود راسره بازی نکوی.

ما بادام دلاسه ورکړل.

بوتې مو هم پوره کړو.

سبا راتلم شازیې ته مې ډیری زاری وکړی چې راځه چکه وکړو.

خو  نې منله.

سبا مې حرکت وکړو.

خور مې په دسمال کې چیشی راکړل.

ویل دا به مور او پلارجان ته ورکړی.

نو را روان شوم.

چې لږ مزل مې وکړونو مې صبر ونشوو.

دسمال مې خلاص کړو ګورم چې بادام دی.

نو ما خو خپله برخه په بازی کې بایللی وو.

نومې دا بادام ټول مات کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ومې خوړل.

کور ته راغلم کورنۍ غړو راسره سترې مشې وکړې.

لاړم بیرون ته.

دملګرو سره مې هم ولیدل.

هغوی دا خنګه چاغ شوی یې.

ما داسې به نه وی.

هغوی ویل همداسی ده.

ماښام راغلم کورته.

چې خور مې زنګ وکړو .

ویل حسیب در ورسیدو.

پلار مې ورته ویل هوو هغه د وخته راغلی.

خور مې ورته ویل چې بادام مې ورکړی وو هغه یې در ورسول که خوړلی یې دی.

ده خو خپله برخه په بازی کې وبایلله .

پلار مې ورته ویل نا نا ولاکه یې هیڅ هم راوړی وی.

خور مې ویل چې ما خو بادام ورکړل خو ده یې کار وخلاص کړی.

پلار مې ویل چې توده زه به یې خوښ شم.

زه ډیر وار خطا شوم.

ماویل هوس چیرته ځی شپه هم ده.

مو بایل کې خبری بندی شوی کټ یې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما دموبایل قیبل یې را واخیست.

ویل ولې خلک شی درکړی ته یې داسی کوی.

سبا به خلک لوی امانت درکوی.

ته به یې داسی کوی.

خو ښه سم یې ووهلم.

ښی توبې یې راباندی وایستی.

خور ته مې زیاته غوصه راتله.

سهار شوو لاړم مکتب ته.

هلته استاذ ویل چیری وی.

ما ورته کیسه وکړه.

ویل ښه سمه ده.

درس مو وویلا داسی تنګ شوم مکتب کې.

نو مې له دېوال راټوپ کړل.

په تفریح کې راغلم کورته.

کورته چې راغلم.

ښه وو پلار مې چرته تللی وو.

کتابونه مې له مور څخه پټ کینودل.

زه لاړم بیرون ته.

دملګرو سره مې خاورو کې ساعتری کول.

دغرمې وخت شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه لاړم کورته .

مور مې ویل مکتب ته تللی وی.

ماویل هوو تللی وم.

ویل نو داکالی او مخ او لاس دا ولی داسی په خاورو ککړ دی.

ما ویل موری پښه مې وښیې دا ولویدم .

مور مې ویل نه لویدلی خو نه یې رښتیا ووایه.

ما ورته رښتیا وویل نو یې راپسی رامنډه کړه .

ماهم بیرون ته منډه کړه.

ویل لاړ شه ډوډی به چرته خوری.

نن خو ډوډی نشې رانه خوړلی .

نیم ساعت وخت تیر شوو.

مور مې راباندی غږ وکړو.

ویل راشه کالی دی بدل کړه ډوډی هم وخوره.

ما ویل نه درځم ته مې وهی .

ویل نه دی وهم راشه .

زه هم ورغللم .

خو چې ورغللم هیڅ یې راته ونه ویل.

کالی یې رابدل کړل ډوډی یې راکړه.

زه زیات خوشاله شوم.

خور مې زنګ وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل نن راشه زه درسره درځم.

زه هم ورغللم یوه بجه به وه.

چې په بایسکیل روان شوم.

له یوې څخه 49دقیقی تیری وی چې ورسیدم.

خور سره مې ستړی مشی ونکړی.

چې څنګه مې بایسکیل ودراوو نو لاړم بیرون ته غږ یې راباندی وکړو دلته راشه چرته ځې .

زه ورغللم ویل ولی سړی خو یوارستړی مشی کوی.

شپه مې وکړه.

شازیې ته مې ویل .

راځه بازی یا چکه وکړو.

هغې ویل راځه.

ما ویل په بادامو یې کوو.

هغې ویل نو ستا سره بادام کله شته.

زما سره 100افغانۍ وی.

ماویل زه روپۍ درکوم ته بادام.

ویل سمه ده .

بازی مو شروع کړه.

خو ما وګټله.

هغې ویل راځه بیا یې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيا ما وګټله.

خو دهغې بادام خلاص شول.

خور مې راته ويل ورکړه نيم ورکړه نيم يې ستا.

ماويل ولې يې ورکړم ما ترى ګټلى دى.

خور مې مجبوره کړم .

نيم مې ورکړل.

وخت تيريده .

شازيه هم پيغله شوه.

شايسته پيغله ترې جوړه شوه.

زه هم ځواني موسم کې وم.

دخور کره به چې لاړم شازيې صرف سترى مشى کولې نو به بيرته تلله.

زه هم ورباندى مين شوم ځکه ډيره شايسته او اخلاقى انجلۍ وه.

ليدل يې ماته ډير مهم وو.

خو چې هروخت به تللم خور کره نو ما به ورسره ليدل.

اوس مشکيل داوو چې څنګه يې پوهه کړم چې زه درباندى مين يم.

او پلار يې دومره غټ پښتون ځان ته ويلو او ډير بد سړى وو.

چې خپله خبر يې منله دبل چا يې نه منله .

اوس نو زړه مين شوو دا هرڅه په کيسه کې نه وم .

نو زه هر وخت تللم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې جنۍ ته مې اظهار دمينی وکړو.

خو داسی شوم لکه بيخی يې تثور نشم کړای.

پرما دا بيخی زيات دمشکيل ځای وو چې ماورته اظهار وکړو.

خو هغې وخندل.

نو زه هم لږ سم شوم.

هغې ويل هغه ماشومتوب دی په ياد دی.

چې بادام دی رانه په بازی کې وګټل بيا دی نه راکول.

ماويل هغه ماشومتوب دی هغه وخت بيا نه راځی.

بيايې وخندل ښا ته به داسی وکړی چې زموږ باغ هم پلار له منځه يوړلو .

دبادامو پر ځای يې منی کېښودی.

ته به زما دبادامو لس چنده راوړی بيا به زه هم مور ته ووايم چې دا هلک زما خوښ دی.

ماويل سمه ده .

لاړم بادام مې واخيستل.

لاړم چې خور مې وليدم نو بادام مې ترشاه ونيول .

خوښه وو خور مې ويل راځه کوټی ته چای تيار دی .

ما بادام په دروازه کې د وښو لاندی کيښودل .

چای مې وڅښو.

شازيه هم راغله زما خور په ګوړه پسی لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ما شازيې ته ويل ورشه د وښو لاندی بادام دی هغه واخله.

هغې وخندل او لاړه .

وخت تیریده.

بله ورځ بیا ورغللم مخکی به دساعتری لپاره ورتلم.

اوس خو پری مین شوی وم .

ورسره و مې لیدل.

ورته ومې ويل ګرانی مور ته دې وويل.

هغې ويل هوو خو زما مور زما دپلار ځخه ډاريګی.

او دا خبر نشی ورته کړلی.

نو دا به ځنګه کړو .

هغه هم زياته خفه شوه.

ماويل مه خفه کيږه.

تقدير چې ځنګه وی هغسې کيږی.

هغې ويل سمه ده.

خو ډير مه راځه چې پلار به مې شک وکړی .

بيا به زما سره ونشی ليدلی.

ما ويل سمه ده خو زړه ظالم مې نه پريږی.

هغې ويل زه هم داسی يم خو ځنګه وکړم.

ما ويل ليک او لوست دې زده دی.

ويل کم کم مې زده دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماویل ډیر ښه .

موبایل مې ورکړو.

مسیج مې ور  وښودا.

بیا به مې مسیج ورسره خبری کولی.

خو داسی لیک یې رالیکلو چې بیخی زیات خراب سم نه پری پوهیدم.

وخت تیریده.

دهغې هم مسیج زده شوو.

اوس یې نو سم مسیج کولو.

هر ماښام به مو مسیج کولو .

وخت تیریده.

ما هم مکتب پریښودو.

ځکه له اوله مې ورسره مینه نه وه.

نو شازیې مور خبره وه.

او پلار یې نه وو خبر .

او پلار یې ډیر بد سړی وو.

وخت تیریده.

هر وخت مې ورسره لیدل.

خو ډیر وخت لپاره مې نشوو ورسره لیدلای.

ورځ تر بلې مو مینه زیاتیده.

اوس غم دا وو چې ما کور کې نشوو کولی چې ورتهووایم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دهغې پلار مزاحم وو.

وخت تیریده .

زه په مینه کې داسی لېوني شوم.

چې هیڅ ډار مې نه وو.

صرف دیدن کول مې هدف وو.

بله ورځ بیا لاړم د خور کره مې.

دشازیې پلار ویل شازیه مریضه ده.

ته راځه زه به درسره لاړ شم ته موټر راسره بوځه.

ماویل سمه ده.

دشازیې مور دموټر کلۍ راوړی.

زما موټر سم زده هم نه وو.

خوبیا مې هم چلاند کړو روان شوو.

روغتون ته.

شازیه یې بستر کړه.

زه هم هلته پاتی شوم.

داکتر ویل چې دا ډیر تشویش کوی.

دا که دا رقم تشویش کوی نو شاید نارغی یې لویه شی.

دوا یې ورکړه .

بیرته راغلو کورته .

زه هم راغلم خپل کور ته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مابنام مې ورته مسیج وکړو.

سلام ګرانې ښه یې.

هغې ویل علیکم سلام الحمدالله اوس ښه یم.

ماویل داکتر ویل چې دا تشویش کوی.

ته دخه لپاره تشویش کوی .

ویل نکوم زه خو بیخی تشویش نکوم.

ماویل نه ګرانې ته ماته ووایه.

کوم مشکیل دی.

شازیې ویل ګرانه ته پوهیګی چې زما پلار ډیر غوصه ناک دی.

که چیری زما او ستا واده ونشی .

دا ژوند به خنګه تیروم .

ماویل هیڅ په کیسه کې مه کیږه تقدیر کې چې خنګه لیکل شوی وی هغه به کیږی.

هغې ویل سمه ده ګرانه.

مین درباندی زه یم شازیې

ترما،ته، زیاته ، خفه یې چې دا ولی

نه ګرانه تر تا زیاته میئنه زه پر تا یم

یادیګی مې جـــانــانــه په رښتیا

ماشاءالله ته خو شاعره هم یې.

هوو ګرانه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاپه فم کې هر سړی شاعر کیږی.

نه ګرانې داسی به نه وی ستا سره زما غم کله شته.

هغې ویل ته داسی خبری مکوه

ماویل سمه ده ګرانې.

دا ستا جدایې سخته شازیې

تبا به شم که ته دبل چا شوی

شازیې شعر راغی

تر څو چې یم ژوندی ګرانه جـانـانـه

تر هغې دې په نوم کړم زندګې

ماشاءالله شازیې نوره شاعره کیږی هم .

هغې ویل هوو شاعره به شم خو چې ستا به شم کنه.

دې خبری زما په زړه کې لکه دغشي داسی کذار وکړو.

موبایل مې پر سینه کیښودا.

سترګې مې پټی کړی .

چې جدایې مې احساس کړه دټول عمر تو زیات خفه شوم په ژړا شوم.

مسیج ګورم چې لیکلی وو ولی ورک شوی ګرانه جواب راکړه چې شپه لنډه شی.

نه یم ورک ګرانی هسی ستایوی خبری زیات خفه کړم.

ولی ولی ګرانه کومی خبری خفه کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شازيې تا چې ويل چې شاعره خو شوم چې ستا به شم کنه.
کړمــه خودکشی جـانـانـه ستا که زه نشومه
کړمه زه دعا جانانه إن شاء الله چې ستا به شم
ماشاءالله ګرانی سمه ده شاعره شوی
شاعری مې ستا دغم سره شروع کړه.
ګرانه وګوره غمو دې کړم شاعره
ما ورته شعر ولیکلو
ته خو زما غمو شاعره کړی قربانه
زه خو ستا غمو جنون کړم محترمې
زما شعر ته يې دزړه واله ستکر ورکړو.
ماورته مسیج ولیکو اوس لږاره ښه وخت بیا به ګف کوو ګرانې.
سمه ده ګرانه ښه شپه ولری.
موبایل مې خاموش کړو.
ناست وم دشپې يوه بجه او لس دقیقی بالا وی.
خوب نه راتلو لږ وخت تير شوو.
بیا مې موبایل راواخیست .
شازيې ته مې مسیج وکړو.
خو نمبر يې خاموش وو.
شعر مې ورته ولیکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته بې غمه او بې درده شوی ویده

زه دې کړمه لېونی شوګیری کړم محترمې

نو دا کیسه روانه وه.

هر ماښام به مو مسیج کې شعرونه یو بل ته لیګل.

وخت تیریده.

بله ورځ یې مسیج کړی وو لیکلی یې وو.

ګرانه پلار مې د بل چا سره واده کولو.

خو ښه وو چې دپلار مې هلک خوښ نشوو.

ته دې مور او پلار راولیګه .

ما ویل سمه ده .

مامې مورته وویل .

مور مې ویل سمه ده.

سبا مې مور اوپلار ورغلل.

خو دهغې جنۍ پلار ډیر ضدی وو.

ورته ویلی وو چې دانکیړی.

مور او پلار مې راغلل .

مور مې ویل چې زویا دارقم خبره یې وکړه.

زما زیات فکر خراب شوو.

یوه میاشت وخت تیر شوو.

بیا مې مور اوپلار ورغلل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دهغې جنۍ پلار ورته ویلی وو.

چې زه مې لور داسی کور کې نه ورکوم چې غریبان وی.

زما پلار هم ورته ویلی وو چې زه دا رقم انجلۍ زوی ته دسره کړم نه.

خو ښی تریخی خبری یو بل ته کړی وی.

ما هغې ته مسج وکړو.

ګرانی دا مشکیل خو داسی لوی شوو زما او ستا دټول عمر بیلتون شوو.

نه ګرانه داسی مه وایه زما او ستا مینه پاکه ده.

شازیې ماته ویل راشه دواړه دې وطن څخه لاړ شو.

ماویل نه ګرانی زما پلار او مور بل زوی نلری هغه یوازی نشم پریښودلی.

ویل ښا نو ما یوازی پریښودی شی.

نه ګرانی خو څه وکړم .

بس نو په همدی ځای اړیکه پرې شوه.

مسیج مې ورته کولو خو موبایل خاموش شوو.

یوه میاشت وخت به تیر شوی وو.

اوس نو زه ورتللای هم نشوای .

بله ورځ مې خور زموږ کره راغلی وه.

هغې ماته ویل وروره شازیه یې پلتر زیات ووهله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هغه ډيره هوښياره وه چې ستا دنمبر سره يې نوم نه وو ليکلی او تر اخيره يې اقرار ونکړو.

پلار يې ورته ويل چې دا ځوک وو.

خو دې تر اخيره هم ونه ويل اخير بی هوشه شوه.

نو زه هم بې هوشه شوی وم چې خور به مې نور څه ويل.

وخت تيريده .

دا جنۍ يې واده کړه په داسی کور کې واده کړه.

چې ډير دولتمن وو.

ډيره دنيا يې لرله .

خو خير دغم شپې او ورځی تيريدلی.

دجنۍ کوژده وشوه.

خو زما خور ويل چې هر وخت ژاړی هر وخت يې پلار ته ښيراوی کوی.

داسی شوی اوس هغه شازيه نه ده.

سم وچ لرګی ترې جوړ شوی .

دې خبرو زما ښځه هم وچ لرګی جوړ کړو.

زه هم سم لېونی شوم.

د ژونده مې زړه تور شوو.

دا زموږ دپلارانو پښتو وه چې زموږ په منځ کې يې د بيلتون قانون جاری کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او زموږ ژوند يې تبا او خراب کړو.

وخت تيريده دهغې د  واده مراسم شروع شول.

نور دپلار د کور څخه بل کور ته تلله.

دهغې واده وو او زما دژوند د ارمانونو جنازې کيدی.

دا وخت هم تير شوو.

چې دهغې واده وو .

او ما سهار ژړل تر ماښامه پورې .

دا زموږ پښتو وه چې داسې حال شوو.

وخت تيريده دری يا څلور مياشتې وخت تير شوو .

خور مې زموږ کره راغلې وه.

زه يې نه پيژندم چې کوټې ته ورغللم .

نو خور مې مخ رانه پټ کړو زه حيران شوم.

نو مې غږ پرې وکړو .

خورې څه کيسه ده ولې دې مخ پټ کړو.

نو هغې مې غږ وپيژانده.

نو چيغه يې وکړه وروركه دا په تا باندې څه شوې ها.

نو په ژړا شوه ما پکت دومره ورته وويل خورې دا ستا دخسر او زما دپلار دپښتو دلاسه داسې شوی يم.

نور مې هيڅ ونه ويل .

خور مې يوو خط راکړو ويل دا شازيې درته راليګلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه روان شوم بیرون ته له کوټې بهر شوم خور مې مور ته دهغې جنۍ کیسه شروع کړه .

ویل چې هغه هلک زیات ظلم وربانده کوی.

نو زه لاړم ځان ته کوټې ته خط می وکتلو لیکلی وو.

اول سر کې مات زړونه رسم کړی وو.

بیا یی دا لیکلی وو.

که مور پښتانه نه وای

زه به اوس ستا وم

اخ پښتو

ډیر مې یادیګی ګرانه

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library




# د لیکوال پیژندنه

رفیع الله علي حیدر وردګ. چی عمر یی ۱۷ کاله د ګل ولي زوی د سیدآباد ولسوالی د ډنډوکی د کلي اسیدونکی چی اوس محال د کفتان تاج محمد خان په عالی لیسه کی د نهم ټولګي زده کوونکی دی

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**